☐ **زه د پواینټ 1 او 2 د لاندې ورکړل شوي ټولو معلوماتو د سموالي او دقیقتوب تائید کوم، او دا تائیدوم چې ټوله ډیټا پلټل شوي وه، حتی هغه ډیټا هم، د کوم چې ما څه معلومات نه دي وړاندې کړي.**

☐ **زه  دا تائیدوم چې ما ته دا معلومات راکړل شوي چې زه په یوه داسې پروژه کې ګډون کوم، چې د اروپا د ټولنیز فنډ (ESF) له خوا تمویل کیږي.**

## 3. د اروپا د ټولنیز فنډ (ESF) له خوا د تمویل شوي پروژو د ډیټا د اداره کولو په اړه معلومات:

د اړوند اروپایي اتحادیې د مقرراتو (EU) د شمیرې 2021/1056 (ماده 71، ضمیمه 23) د تطبیقولو لپاره چې کومه ډیټا ګډونوالو وړاندې کړې (بې له هغه ډیټا، چې "د پروژې د اندراج پرمهال خاص ځانګړتیاوې لري" )، هغه به د پروژې سپانسر راټوله کړي څو له د اروپا د ټولنیز فنډ څخه فنډ ترلاسه کړي. د ټولو راپورونو لپاره به ډیټا پرته ستاسې له نوم څخه صادریږي، د مثال په توګه، د مستقیماً شخصي مراجعې پرته (خو د "یو تن آیي ډي" شمیره یا مجموعي شمیره به ورکول کیږي). په کومه خپرونه کې به ستاسې نوم نه ورکول کیږي.

د قانوني مقرراتو (§ 24 para. 2 Z 4 ARR 2014) له مخې به دا ډیټا د 10 کالو لپاره ساتل کیږي. دا موده د هغه کال په پای کې پیل کیږي، په کوم کې چې اخري فنډ یا بسپنه ورکړل شوي وه. د قانوني ادعاو کولو، تکرارولو او دفاع کولو لپاره له اړتیا سره سم دغه موده زیاتول کیږي.

د عمومي ډیټا د خوندیتوب د مقرراتو (EU) 2016/679 (DSGVO) له مخې، تاسې د خپلې ذخیره شوي ډیټا د پروسې په اړه دې ته د لاس رسی، سموالي، ډیلیټ کولو یا محدودولو لپاره لاس رسی لرلی شئ. تاسې د دې لارې هم خپل حق استعمالولی شئ: datenschutz@bmbwf.gv.at په قانوني توګه د ساتنې ټاکل شوي موده به په دې وسیله نه کمیږي.

تاسې د استیناف حق هم لرئ. تاسې د څارنې د مقاماتو سره له دې حق څخه استفاده کولی شئ (د استریا د ډیټا د خوندیتوب مقامات، [www.dsb.gv.at](http://www.dsb.gv.at)).

د زده کړې د موسسې له خوا او د سپانسرانو لپاره په مستعار نومونو د ډیټا چمتووالي لپاره د ډیټا د اندراج  کنترول له ((د ماده 15a B-VG له تړون سره سم ترسره کیږي، چې دغه تړون د فدارسیون او د ولایتونو ترمنځه د زده کړې د اقداماتو د پرمختګ لپاره د اساسي زده کړې او د 2024 څخه نیولې تر 2027 پورې د پوهنځی د پریښودلو د لازمي تصدیق نامې د ترلاسه کولو په برخه کې د زده کړې د نورو اقداماتو لپاره د لویانو د زده کړې د نوښت د دفتر له خوا ترسره شوی و. د ډیټا د پروسې پړاو د زده کړې په وړاندیز کې ستاسې د ګډون د مودې لپاره بیا تکراریږي.

## 4. د اجازې اعلامیه او د ډیټا د پروسې د پړاو اجازه:

ګډونوال تسلیموي چې هغه/هغې کومه شخصي ډیټا وړاندې کړې، ("د ډیټا  د پروژې د اندراج لپاره خاص ځانګړتیاوې په استثنا سره")، هغه به د پروژې د ترسره کولو او د حساب کولو د پروسې لپاره استعمالیږي ، او د پروژې د ارزونې په صورت کې، لکه څنګه چې د فدراسیون، دولت او اروپایي اتحادیې  د مقرراتو قانوني موسسو ټاکلې وي، چې په دې کې د حسابونو د تصفیې اړوند دفترونه او  د تصفیې نور محلي او وړ موسسې او ماموران شامل دي. د اي ایس ایف (ESF) د شریکې تمویل شوي کارونو یا مرستې د قراردادونو لپاره، د حاضری د ثبوت لپاره معلوماتو ته اړتیا وي (نوم، د زیږون نیټه، جنس، د تماس جزیات، د اندراج نیټه او وتنه) او د تصفیې د تعقیب د منلو لپاره د وړ ټاکلي ګروپ سره د تړاو ثبوت. که هغه په یوه پروژه کې ګډون کول غواړي، نو ګډونوال د دې لړ تر لړه معلوماتو  ورکولو ژمن دی. په دې راټلونکې لګښتونه به نور وړ نه بلل کیږي او واپس به نه ادا کیږي.

EUROPÄISCHE UNION
Europäischer Sozialfonds

Initiative Erwachsenenbildung

Bundesministerium
Bildung, Wissenschaft
und Forschung

که چیرې ګډونوال د کارپلټونکي په بڼه د کار موندني په شرکت (آ ایم ایس ) کې ثبت وي، نوموړی کولی شي د پروژې د ګډون په اړه په قوس کې ذکر شوي معلومات (نوم، د زیږون نیټه، جنسیت، د اړیکي نیولو مالومات، د پروژې د ګډون موده او یای - د سند سره یا پرته له سند) (آ ایم ایس )ته ولیږي ترڅو د (آ ایم ایس ) د اقداماتو سره د یوځای کیدو یا ګډوډیدومخه ونیول شي.

☐ زه په ځرګند ډول موافقه کوم چې زما هغه شخصي ډیټا، چې په 1 او 2 پوائینټونو کې ذکر شوې، او همدا ډول دا لاندې ډیټا:

* د کورس د اندراج او پریښودلو نیټې
* د پریښودلو علتونه (فسخ کیدل، ویستل او ورته)
* فراغت/بریا او د امتحان پایلې (که امتحان وي)
* په فراغت کې وضع/فسخ کیدل (د مثال په توګه، د وظیفې د مارکېټ وضعیت یا ورته)
* د فرد آیي ډي (= په مستعار نوم جوړه شوي)
* د ماشوم/ماشومي د موجودیت ثبوت (د ماشوم/ماشومي د پاملرني سره)
* په وتلو سره ډیټا یا 4 اونۍ له هغې وروسته (د مثال په توګه، د وظیفې لټون، په روزنه کې، او داسې نور)
* هغه مشورتي خدمتونه چې استفاده ترې شوې (په ساعتونو کې، محتویات نه)
* یوازې د اې ایس ایف (ESF) برګنلینډ پانګونې د لومړیتوب 4.2 لپاره. ((د ښځو او سړیو ترمنځ برابرې تولې برخې)): د اې ایس ایف (ESF) په پروژه کې د ګډون د بشپړتیا څخه 6 میاشتې وروسته د وظیفې وضعیت بڼه کول

به د زده کړې د موسسې له خوا د دې پروژې/زده کړې د وړاندیز د تعقیب، کنټرول او ارزونې په موخه درج کړل شي

د موسسې نوم: ________________________________________________

ادرس: ____________________________________________________________

د ډیټا د خوندیتوب افسر ____________________________________________ (که نوم یې ورکړل شوی وي)

د فدرالي دولت د ځارنې په ډیټا بیس کې او په هغه سرور کې به خوندي کړل شي، چې د Bundesrechenzentrum GmbH (BRZ) له خوا اداره کیږي.

☐ زه په ځرګند ډول موافقه کوم چې د زده کړې پورتنۍ ذکر شوې موسسه د BEKO GmbH شرکت د ځارنې په ډیټابیس کې زما شخصي ډیټا د د اروپایي اتحادیې (EU) 2016/679 د مقرراتو سره سم د ټاکل شوې اداره کوونکې په توګه په مستعار نوم اداره کولی شي، چې غیرمستقیم شخصي مراجعه جوړه کړې او دا چې ډیټا، په غیرمستقیم بڼه (پرته زما د نوم د ځرګندولو) به د لویانو د زده کړې د نوښت سپانسرانو ته د تعقیبولو، تادیې، کنټرول او ارزونې لپاره وسپارل شي.

☐ زه په ځرګند ډول موافق یم چې زما شخصي معلومات (نوم، د زیږون نیټه )د کورس د بشپړولو په سند کې د کارولو هدف لپاره ثبت ، پروسس او زیرمه شي.

☐ زه په ځرګند ډول موافقه کوم چې زما د تماس جزیات (نوم، ادرس، تلیفوني شمیره) به هغه خدمت وړاندې کوونکیو ته ولیږل شي چې د پلټنې د موخو لپاره د ارزونې مسؤل دي. په سروې کې ګډون داوطلبانه/ په خپله خوښه دی.

☐ زه په ځرګند ډول موافقه کوم چې د اروپایي اتحادیې د مقرراتو د شمیرې 1303/2013 and 1304/2013 له مخې به زما شخصي ډیټا د ښوونې او روزنې، ساینس اینډ ریسرچ فدرالي وزارت او د کار او ټولنیزو چارو فدرالي وزارت، د تادیې، حسابي تصفیې او شمیرنې د تجزیې او ارزونې په موخه د روغتیا او مشترې خوندیتوب ته انتقالیږي.

☐ زه په څرګند ډول موافقه کوم چې کوم حساس ډیټا ما وړاندې کړې وي (" د پروژې د اندراج لپاره خاص ځانګړتیاوې")، هغه به د تعقیب، تادیې، کنترول او ارزونې لپاره د پروژې د مرسته کوونکي له خوا اداره کیږي او د دې موخې لپاره به د ښوونې او روزنې، ساینس اینډ ریسرچ فدرالي وزارت او د کار او ټولنیزو چارو فدرالي وزارت د روغتیا او مشتري خوندیتوب ته انتقالیږي.

**زه هر وخت کولای شم چې خپله پورته ورکړل شوي اجازه واپس واخلم.** په اجازې واپس اخیستلو سره د ډیټا د نور استعمال اجازه نه ورکول کیږي. د واپس اخیستلو د اجازې پورې د اداره کولو قانونیت بیا نه متاثره کیږي. زه د اجازې د واپس اخیستلو، د اداره کولو د بندیز یا خپلې ډیټا د ډیلیټ کولو موخه، په غیر رسمي لیکل شوي بیان سره د زده کړې پورته ورکړل شوي موسسې ته په ورکولو، ترلاسه کولی شم.

| | |
|---|---|
| _____________________ | ______________________________________ |
| **ځای، نیټه** | **د ګډونوال لاسلیک** |

د ډیټا د کلیکسیون او د رضایت د اعلامیې په اړه په شفاهي توګه لاندې کس وضاحت کړی و

| | |
|---|---|
| ______________________________________ | ___________________________ |
| لومړی نوم، اخري نوم | نیټه، لاسلیک |